مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی
۱۵ / ۰۴/ ۲۰۲۴

## باتې

هسې په جومات د حورو باتې دي
نجونه مو تر حورو ښکلې زیاتې دي
مه وایه ملا د خپلو نجونو بد
نجونه د وطن خو پرې ذاتې دي
هسې خلک ستایی د بل ځای مینه
دا کوڅې په عشق کې خراباتې دي
عشق چې واکمن وي د هغې دنیا
چارې د دنیا له خلکو پاتې دي
ځان ښکاري مجرم درته په خپل عمل
ځکه دې تل خدای ته ننواتې دي
وایه«مرادزیه» څه تازه ولس ته
اوس تېرې زړې قصې مېراتې دي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ